بزګرانو او کرنیزو سوداګرو ته مالي تمویل



# د کرنیزي پرمختیا صندوق

## ستاسي د کرنیزي سوداګرۍ ملګرۍ

## تخنیکي چوپړتیاوې

د کرنیزي پرمختیا صندوق له پراختیایي موخو یوه یې د تخنیکي چوپړتیاو وړاندې کول دي، دا ځانګه پېرېدونکو ته د تخنیکي چوپړتیاو د وړاندې کولو دنده پرمخ وړي، چې د مالي تمویل د منظورۍ په بهیر کې اړینه ونډه لري او همدارنګه د پېرېدونکو د چارو د څارنې دنده هم پر غاړه لري، ترڅو د پېرېدونکو چارې د چاپېریال او روغتیایي معیارونو سره برابرې کړي.

## د مالي تمویل موده او شرطونه

- د تمویل شرطونه یا د میاشتو شمېر چې مالي تمویل پکې ټاکل شوی وي باید د تمویل موخې او د تمویل ترلاسه کوونکي وړتیاو سره برابرې وي، ترڅو ترلاسه شوی مالي تمویل په خپل وخت صندوق ته بېرته وسپاري.
- د مالي تمویل موده د کاروبار نوعیت او فعالیت ته په کتو له یو کال څخه تر پینځو کلونو پورې ټاکل کیږي.

## د مالي تمویل غوښتنې شرطونه

1. د اسلامي مالي تمویل غوښتونکی باېد د افغانستان تابعیت ولري.
2. د مالیې ورکړې پېژندنې شمېره (TIN) ولري.
3. له اړونده ځانګې یا ادارې کاري جواز ولري.
4. کرنیزه سوداګرۍ کې لږ تر لږه یو کال کاري تجربه ولري.
5. په غېر قانوني کړنو کې  ښکېل نه وي.



## زمونږ سره اړیکه کې شئ!

www.adf-af.org
/adfafghanistan

### مرکزي دفتر

٠٢٠٢٥٠٤٨٣٥ - ٠٧٣١٧٧٧٧٨٨
info@adf-af.org
د کرنیزي پرمختیا صندوق، خالد ارسلان کوڅه، دارالامان سرک، کابل افغانستان

### د بامیان ولایتي دفتر

٠٧٧١٤٩٦٥٥٩ - ٠٧٨٢١٩٩٠٠١
enayatullah_azime@adf-af.org
دویم پوړ، شاهان بامیان سوداګریز مرکز، نوی ښار، عیسی خان دشته، لومړی ناحیه، بامیان افغانستان

### د شمال سیمه ایز دفتر

٠٧٩٨١٦٨١١٥ - ٠٧٩٤٤٥٣٣٣٣
ahmadzubair_amiri@adf-af.org
د ولایت سړک، حضور بڼ، د سوداګرۍ او صنایعو خونې سیمه ایز دفتر، مزارشریف، بلخ افغانستان

### د ختیځ سیمه ایز دفتر

٠٧٨٦٠٨٦١١٣ - ٠٧٢٨٦٩٧٠٦٩
mushfiq_mohmoodi@adf-af.org
دیارلسم کور، پنځم سړک، څلورمه ناحیه، روښان مېنه، د سوداګرۍ او صنایعو خونې سیمه ایز دفتر، ننګرهار افغانستان

### د سوېل سیمه ایز دفتر

٠٧٠٠٣٠١٤٤٩
Hayatullah_Afghan@adf-af.org
دوهمه فواره، عېنو مېنه، د سوداګرۍ او صنایعو خونې سیمه ایز دفتر، کندهار افغانستان

### د لویدیځ سیمه ایز دفتر

٠٧٢٨٦٨٦٨٠٨
Firoz_Jan@adf-af.org
هرات بزنس سنټر، د سوداګرۍ او صنایعو خونې سیمه ایز دفتر، هرات افغانستان



## پېژندنه

د کرنیزې پرمختیا صندوق یو دولتي مالي غیر بانکي اداره ده، چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت تر چتر او د صندوق د عالي شورا د رهبرۍ لاندې خپلې چارې پرمخ وړي، د دې ادارې یو له سترو دندو د افغانستان کرنیز ډګر کې بزګرانو او د کرنیزو توکو سوداګرو ته مستقیماً او یا هم د منځګړو مالي ادارو له لارې د اسلامي مالي تمویل او تخنیکي چوپړتیاو برابرول دي، صندوق له همدې لارې غواړي د هېواد کرنیز ډګر معیاري، پراخه او پرمختللی کړي.
صندوق د هېواد د کرنیز سکتور په وده او پرمختګ کې یوه مخکښه اداره ده، چې له پیله تر دې دمه یې له یوولس (۱۱) میلیارد افغانیو ډېرې یې بزګرانو او کرنیزو متشبثینو ته د بېلابېلو تخنیکي مرستو سره یوځای وړاندې کړي دي، چې له یادو مالي تمویلونو او تخنیکي مرستو هېواد کې له شپېته (۶۰) زره ډېرو بزګرانو نېغ په نېغه ګټه اخیستې ده.

صندوق پیاوړی اداري جوړښت، د شرعي سلا مشورو ځانګړې کمېټه، د اسلامي مالي تمویل اسانتیاو برابرولو په موخه شرعي تګلاره، کاري سیستمونه، په کار پوه او مسلکي روزل شوي کارکوونکي لري، چې د هېواد (۳۴) ولایتونو کې هېوادوالو ته چوپړتیاوې وړاندې کوي، د صندوق مرکزي دفتر کابل او سیمه ایيز دفترونه یې ننګرهار، بلخ، هرات او کندهار ولایتونو کې شتون لري، د دې ترڅنګ دوه ځانګړي دفترونه لري، چې یو یې د کرنې وزارت ودانۍ کې او بل یې د بامیان ولایت مرکز کې د هېوادوالو پرمخ پرانیستي دي.

دلته مو وڅارئ!
/adfafghanistan

## موخې

بزګرانو او کرنیزو سوداګرو ته د مالي تمویل او تخنیکي مرستو له لارې اسانتیاوې رامنځته کول او د هېواد د کرنیز اقتصاد پرمختګ کې فعال ګډون د صندوق بنسټیزه دنده ګڼل کېږي، کرنه کې پانګونه خورا اړینه ده ځکه د هېواد کرنیز سکتور د افغانانو د اقتصاد یو پر څلورمه برخه (۱/۴) جوړوي، د هېواد نږدې (۷۵) سلنه وګړي چې کلیو او بانډو کې ژوند کوي او کرنه یې ژوند ته د هوساینې او پرمختګ زمینه برابروي، نو ښکاره ده چې کرنیز ډګر کې تخنیکي مرستو او مالي تمویل ته نه لاس رسی د کرنیز سکتور د پرمختګ پر وړاندې یو لوی خنډ رامنځته کوي.
د کرنیزې پرمختیا صندوق هېواد کې د کرنیز ملاتړ برخه کې ځانګړی ځای لري او د هغه کرنیزو سوداګریو پر مالي ملاتړ تمرکز کوي، کوم چې د کرنې په سوداګریز ډګر کې غوره وړتیاوې لري او د اقتصاد د ودې لامل ګرځي.

**د صندوق بنسټیزې موخې:**

1. د کرنیز سکتور د ودې او پراختیا په موخه کرنیز سکتور ته اغېزمن او ځواب ویونکی (لنډ مهاله، منځمهاله او اوږد مهاله) مالي تمویل برابرول.
2. د تخنیکي او مشورتي چوپړتیاو له لارې د کرنیزو ارزښتناکو کړیو پیاوړي کول.

## د صندوق چوپړتیاوې چا لپاره دي؟

د کرنیزې پرمختیا صندوق د هېواد د کرنیز ډګر د ودې او پرمختګ په موخه هڅه کوي، چې بزګرانو، کرنیزو متشبثینو او سوداګرو ته مستقیماً یا هم د مالي منځګړو لکه بانکونو، د کوچنیو پورونو ادارو او غیر بانکي مالي ادارو یا د غیر مالي منځګړو لکه کرنیز کوپراتیفونو او ټولنو له لارې مالي تمویل او تخنیکي مرستې وړاندې کړي.

## مالي تمویل څه ډول ترلاسه کولی شئ؟

د بزګرانو وړې ډلې، کرنیزې سوداګرۍ او هغه وګړي چې د کرنیز ډګر د پیاوړتیا، پرمختیا او پراختیا برخو کې د غوره نظرونو او نوښتونو لرونکي دي، د صندوق (کابل، ننګرهار، هرات، بلخ او بامیان) له دفترونو دي له نږدې لیدنه وکړي، د صندوق له لوري د مالي تمویل وړاندې کوونکي تجربه لرونکي سلاکاران به د دوی د کرنیزې سوداګرۍ اړوند د تمویل پروسه پیل او یا به یې هم خپلو منځګړو ملګرو ته ور وپېژني.

له www.adf-af.org ننداره وکړئ!

## د اسلامي مالي تمویل محصولات

**مرابحه:**

په دې محصول کې صندوق پېرېدونکي ته د هغه د ضرورت وړ کرنیز اجناس د مرابحې بیعې پر اساس اخلي.
د مرابحې محصول د کرنیزو توکو پېر، صادراتو او وارداتو د تمویل په موخه کارول کېږي.

**وکالة:**

ددې محصول له لارې صندوق کرنیزو سوداګریو، کوپراتیفونو او متشبثینو ته د شرعي او قانوني فعالیت د اجراء په موخه د وکالې قرارد په اساس اسلامي مالي تمویل وړاندې کوي.

**د بانو محصول:**

د کرنیزې پرمختیا صندوق د بانو محصول په نوم ښځینه سوداګرو ته د مالي تمویل ځانګړې پروګرام لري، ترڅو هغه ښځینه سوداګرې چې وړې کرنیزې سوداګرۍ پرمخ وړي، یاد مالي تمویل ته لاس رسی پیدا کړي، ښځینه سوداګرې کولی شي چې یاد مالي تمویلونه د مرابحه، سلم، اجاره او اقتناء او استصناع په توګه ترلاسه کړي، ښځینه سوداګرو لپاره د یادو مالي تمویلونو موده اوږد مهاله ده او په وړاندې یې د ګټې سلنه هم ټیټه ده.

